مطبوعاتی وینا

سره د ټولو امنیتی فشارونو او ګواښونو، ټولټاکنی د افغانانو لپاره یو بری دی

**کابل، ۲۲ اګست ۲۰۰۹**: د اروپايي ټولنی د ټولټاکنو و څارنی ماموریت د ټولټاکنو سرته کول ته د یو بری په توګه د هغه کسانو په مقابل کی چی غوښتل یی د افغان ولس د خپلی راتلونکی په مورد د پریکره کولو نه منع کری هرکلی وایی. دا ماموریت د هغه افغانانود میړانی نه چی ګواښونو او خطراتو ته یی په چلنج ورکولوسره، رای اچونی ته حاضر شول ستاینه کوی. همدا رنګه دا ماموریت د افغانی چاروواکو او امنیتی ځواکونوڅخه د د ټولټاکنو په تامینولو کی، پدی خطرناکه چاپیریال کی ستا ینه کوی.

د اروپايي ټولنی د ټولټاکنو و څارنی ماموریت د ټاکنو د پروسی د ټولو اړخونه څخه په ټول هیواد کی په تیرو دوه میاشتو څارنه کړی ده.

سره د ځینو عملیاتی او اداری نیمګړتیاوو، د ټولټاکنو خپلواک کمیسون په عمومی ډول چاری په اغیزمنده توګه ترسره کړی دي، د ټولټاکنو عملیات په وخت تطبیق کول سره له د چی دیر تنګ وخت یی درلود. قانونی چارچوکات یو مناسب اساس یی د ټولټاکنو لپاره تیار کړی دی. د ټاکنو د شکایاتو کمیسون، که څه هم په پروسه کی ورسته تاسیس شو، وکولای شول ترڅو تنظیمی او عملیاتی چارچوکاټونه د شکایاتو د پلټون په خاطر جوړ او وده ورکړی.

زیات شمیر نوماندانو وکولای شو چی په هیواد کی کمپایننونه وکړی، په هغه مناظرو کی چی د مهمو مسایلو په اړوند لکه د امنیت نشتوالی، روغه جوړه، او فساد وی، وځلیږی. که څه هم کمپاین له څو بریدونونه چی د کمپاین په چاروواکو وشول او دمنابعو ته د نا متناسبه لاسرسیو څخه زیانمن شو. د میرمنو مدنی او سیاسسی حقوق هم د رای اچونکو او هم د نوماندانو په توګه په ټولټاکنو کی محدود وو، سره له دی چی په اساسی قانون کی د دوی حقوق ساتل شوی دي. مدنی ټولنو موسساتود دیموکراتیک بهیر سره ډیره مرسته وکړه، په زیات شمیر کورنی لیدونکو او د نوماندانو استاسزو د رای اچونی په مرکزنو کی افغانان په دی قادر کړل چی په خپله د شفافیت بهیر سره مرسته وکړی.

دا لومړنی ټاکنی وی چی د افغانانو له لوری اداره شوی، او دا بهیر تر اوسه پوری دیر زیات مثبت لیدل کیږی. د افغانستان خلک اوس دا اړتیا لری چی په دی دیموکراتیک بنیاد باندی چه اوس غځول شوی دی لانورکار وکړی.

Website: www.eueom-afghanistan.org

ماموریت به خپلی څارنی ته د ټاکنو وروسته موده کی دوام ورکړی، پدی کی د پایلو شمیرنه، کاری پروسیجرونه، تفتیش، د شکایاتو او اپیل بهیر، اوکه چیری دوهم ځل ټاکنی. د اروپایي ټولنی د ټولټاکنو و څارنی ماموریت د ۳ جولای څخه په افغانستان کی د ۲۵۰ کسانو کارکونکوسره، چی د هیواد هرګوټ استول شوی دی، شتون لری.

نوټ: د اروپایي ټولنی د ټولټاکنو و څارنی ماموریت لومړنی اعلامیه چی نن خپره شوه دا مومندنی له تفصیل سره لری.

د رسانیزو پوښتنو په اړوند مهربانی وکړی په پته اړیکه ونیسی:
*info@eueom-afghanistan.org*

او یا په لاندی شمیرو تیلیفون وکړی:

*+93 (0)706 221 436*  *+93 (0)706 221 364*  *+93 (0)706 221 363*